**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د بدلونونو طوفان د اردن د ظالم حکومت ستنې لړزوي**

**(ژباړه)**

**خبر:**

د ۲۱ عربي خبري آژانس «پر اردن د اسـرایيلو د برید د احتمال په اړه د نظام د بدلون په حالت کې د ټرمپ او نتانیاهو خبرې» تر ســرلیک لاندې خبر خپور کړ؛ په خبر کې راغلي چې د تل‌ابیب پوهنتون څېړونکي «یشـوع مئیري» ویلي، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د اسراییلو له لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو سره په خپلو وروستیو خبرو کې ټینګار کړی، چې اسراییل باید په اردن کې د اسلامي کودتا د رامنځته کېدو په صورت کې پر دغه هېواد باندې احتمالي برید ته چمتو وي.

همدارنګه هغه په ټولنیزه رسـنۍ، ایکس کې لیکلي: ټرمپ او نتانیاهو د ســیمې ســیاســي وضــعیت ارزولی او دې پایلې ته رسېدلي دي، چې ایران ښایي په سوریه او لبنان کې له ماتو وروسته هڅه وکړي، چې په اردن کې خپل نفوذ پراخ کړي.

**تبصره:**

امریکا فکر کوي چې مســلمانان د «ایران ګواښ» په اړه د دوی کیســې او هغه هڅې چې د مذهبي نفوذ د پراختیا لپاره یې کوي، مني. خو پر دې نه پوهېږي چې په غزه کې د یهودي رژیم وحشـتونو د ایران او په لبنان کې د هغه د حزب اصـلي څېره بربنډه کړې ده او د ایران هغه ادعاوې تشې خبرې دي، چې د قدس د ازادۍ او له صهیونیستي رژیم سره د دښمنۍ په اړه یې کوي؛ دوی په حقیقت کې د یهودي اشغالګر رژیم په ګټه عمل کوي او دغه شعارونه په سیمه کې د امریکا د مداخلو او اشغال لپاره پوښښ او دلیل دی.

یهودي رژیم د مسـلمانانو په خاورو کې د غرب نظامي اډه ده، چې د عرب حاکمانو په مرســته رامنځته شــوې ده، ترڅو د مسلمانانو په ستوني کې اغزی پاتې شي، د مسلمانانو تر منځ اختلافات زیات کړي، د هغوی سرچینې لوټ کړي او د غربي قدرتونو غوښـتنې پر ځای کړي. امریکا یو ځل بیا ایران د سیمې لپاره یو ګواښ معرفي کوي، ترڅو د سـوریې د وضـعیت او پر اردن یې د اغېز په اړه خپلې اندېښــنې توجیه کړي، په داســې حال کې چې د جولاني په مشــرۍ ســوري مخالفینو غربي هېوادونو ته ویلي، چې له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه یهودي دولت سـره د جګړې هېڅ نیت نه لري او سـوریه به یوازې د سایکس-پیکو په واسطه ترسیم شوې پولې ساتي او له ګاونډیو هېوادونو سره به خپلو اړیکو ته دوام ورکوي.

مسـله تر دې هم لویه شـوې او د شـرم وړ کچې ته رسېدلې؛ ځکه د روسـیې د هوایي اډې «حمیمیم» چې د سـوریې د خلکو د وژلو لپاره الوتکې ترې پورته کېدې، او نورو امریکایي اډو ســاتنه لا دوام لري. خو بیا هم دا مســایل نه دي توانېدلي، چې د اســلامي دولت له تاســیس څخه د غرب وېره را کمه کړي؛ ځکه ویده زمرې راویښ شــوی او قدرت یې ورځ تر بلې زیاتېږي. مســلمانان دې پایلې ته رســېدلي دي، چې کافر غرب هېڅکله د دوی د خیر او اصــلاح فکر نه کوي او د اردن حاکم حس کړې، چې پای یې نږدې شــوی او د خطر زنګ وهل شــوی دی. د اردن زندانونه هم د نورو عربي هېوادونو په څېر له هغو کسانو ډک دي، چې د حق غږ یې اوچت کړی او حکومت هغوی زندان ته اچولي دي چې د خلکو غږ چوپ کړي.

هو، د صبر کاسه ډکه شوې ده او د اردن د حکامو خیانت نور له هېڅ مسلمان څخه پټ نه دی، خو لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ، لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ، حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ كَذَلِكَ»**

**ژباړه:** *زما له امت څخه به تل یوه ډله پر حق وي او هېڅ شی هغوی له دې لارې نشي راګرځولی، ان که نور خلک هغوی پرېږدي، تر دې چې د الله سبحانه وتعالی امر راورسېږي او هغوی به په همدغه حال وي.*

د اتلولۍ هغه فردي عملیات چې ځینو مسلمانانو د اردن پر پوله د یهودي دولت پر وړاندې ترسره کړل، موږ ته دا ثابتوي چې د اردن طاغوتي نظام خلک نه مني او پولې یې تش خیال دی. مسلمانان یوې اسلامي رهبرۍ ته په تمه دي چې د حاکمانو تاج او تخت نسکور کړي او وړسپې د قدس د ازادۍ لپاره قیام وکړي.

امریکا په وېره وضعیت څاري او هڅه کوي چې په سوریه کې د مسلمانانو انقلابي غبرګونونه محدود کړي او د هغوی لوړې موخې د یوه کوچني او کمزوري دولت په رامنځته کولو سره راټیټې کړي. همدارنګه امریکا له راتلونکي څخه د وېرې په سبب له عرب حاکمانو سره د پټو ناستو له لارې د داسې پلان د تپلو هڅه کوي چې د اسلام د طوفان پر وړاندې مقاومت وکړي. د عقبې په ناسته کې د اردن حکومت ټینګار وکړ، چې په سوریه کې باید په سوله‌ییزه توګه قدرت ولېږدول شي. دغه پړاو د غرب او د هغه د مزدورانو لپاره تر ټولو حساس او له خطره ډک پړاو دی، ځکه هغوی په دې لړۍ کې له هر ډول ګډوډۍ څخه وېره لري؛ خو الله سبحانه وتعالی په قرآن کریم کې فرمايي:

**﴿وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللهُ وَاللهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ﴾** [انفال: ۳۰]

**ژباړه:** *«او هغوی مکر او چل کاوه او الله (سبحانه وتعالی) هم مکر او تدبیر کوي، الله (سبحانه وتعالی) غوره تدبیر کوونکی دی.»*

له پنځو لسیزو ډېر وخت کېږي چې د سورېې خلک د اسد رژیم د دیکتاتورۍ په سبب د وینو غوړېونه کوي او له مختلفو شکنجو څخه یې ځورېږي او دغه دردونه د دې لامل شوي چې د هغوی فکر لا ژور او غوښتنې یې نورې هم لوړې شي. دوی د الهي شریعت پر بنسټ ولاړ حکومت غوښتنه کوي؛ سره له دې چې رسنۍ یې غوښتنې سانسوروي، خو د سورېې خلک دې پایلې ته رسېدلي دي، چې د غرب لخوا هره وړاندې شوې حللاره مردوده ده او د انقلابیونو په صفونو کې غږونه اوچت شوي، چې د اسلامي خلافت د تاسیس غوښتنه کوي. مسلمانان په ټوله نړۍ کې د قدس د ازادۍ او په غزه او د نړۍ په نورو برخو کې د خپلو مظلومو وروڼو د مرستې هیله لري. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَاللهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ﴾** [ یوسف: ۲۱]

**ژباړه:** *«او الله (سبحانه وتعالی) پر خپل کار برلاسی دی، خو ډېری خلک نه پوهېږي.»*

**لیکوال: ام احمد عساف – د فلسطین مبارکه خاوره**

**ژباړن: صهیب منصور**